د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

فراه د لوړو زده کړو مؤسسه

محصلانو او علمي چارو معاونیت

ښوونې او روزنې پوهنځی

# د علمي برنامې دوره یې بیا کتنې راپور

## څانگه/علمي برنامه ( پښتو ژبه او ادبیاتو څانگه)

کال ۱۴۰۳ل.ل.

**د هیأت وړاندیزونه او نظریات:**

Faculty of Education
پوهنځی تعلیم و تربیه

**۳. ښې کړنې :**

۱- د پښتو څانګې یو تن استاد له لوري محصلانو ته د مونوګراف لیکنې اصول او تخنیکي اړخونو اړوند علمي سمینار وړاندې کول؛

۲- د پښتو څانګې یو تن استاد له لوري د ناخپلواکو مورفیمونو سمه کارونه تر سرلیک لاندې علمي سمینار وړاندې کول؛

۳- په تېر سمستر کې د دې څانګې یو تن استاد له لوري ازموینو ته د چمتو والي او اندیښنو لرې کولو لارې چارې تر سرلیک لاندې علمي سمینار وړاندې کول.

۴- د دې څانګې استادانو له لوري په ملي او بین المللي څېړنیزو ژورنالونو کې د څېړنیزو مقالو خپرول؛

۵- په هر سمستر کې صنفي پروژې او ګروپي کارونو لارښوونه؛

۶- د مونګرافونو لپاره د محصلانو لارښوونه؛

۷- د عملي کار او تدریس لپاره د فراه مختلفو لیسو ته د محصلانو معرفي.

۸- د لوحو اصلاح کمیسونه سره (۶) میاشتې دوامداره همکاري.

۹- د چین هېواد دوکتورا برنامې ته د یو تن کادري غړي معرفي؛

۱۰- د محصلانو ظرفیت لوړونې په موخه د پښتو څانګې استادانو له لوري د محصلانو فرهنګي او ورزشي فعالیتونو په لاره اچول ؛

۱۱- د لوړو زده کړو وزارت له لوري په لاره اچول شویو اصلاحي برنامو ته د محصلانو معرفي؛

**د هیأت وړاندیزونه او نظریات:**

- ✓ **د څانګې ستراتیژیک پلان دې د پوهنځې د ستراتیژیک پلان مطابق ترتیب سي.**
- ✓ **د محصلانو لپاره دې د کارآموزي پروګرامونه زیات سي.**
- ✓ **د تړون لیکونو شخه دې په زیاته پیمانه ګټه واخیستل سي.**
- ✓ **د محصلانو له استازو او محصلانو سره دې د آمر او استادانو جلسات زیات سي.**

**۴. د تېرې دورې د بیاکتنې د کړنو او د بشپړېدو/ لاسته راغلو پرمختګونه په اړه مالومات:**

پښتو څانګه له دې وړاندې د علمي برنامو د بیاکتنې په پروسه کې نه وه شامله شوې، دا څانګه په لومړي ځل د بیا کتنې په پینځه کلنه علمي پروسه کې شامله شوې ده؛ خو له دې وړاندې د کلنی بیا کتنې راپوروونه د دې څانګې له لوري د تضمین کیفیت کمېټې ته استول شوي دي.

**د هیأت وړاندیزونه او نظریات:**

- ✓
- ✓ .

| بیاکتنې نېټه: ۱۵ / ۹/ ۱۴۰۳ | مخکنۍ بیاکتنې نېټه: نه یې لري |
| --- | --- |
| څانګه : پښتو ژبه او ادبیات | پوهنځی: ښوونه او روزنه |

**د کمېټې مسؤل او غړي :**

**۱- پوهنیار نورمحمد کاکړ د مرور دورهٔ کمېټې مسؤل؛**

**۲- پوهنیار محمد یزدان پرست د پوهنځي رئیس او د مرور دورهٔ کمېټې غړی؛**

**۳- پوهنیار نصیراحمد نصرت د مرور دورهٔ کمېټې غړی او نصاب مرکزي کمېټې غړی؛**

**۴- پوهنمل کاظم نیکزاد د مرور دورهٔ کمېټې غړی او د ارتقای کیفیت مرکزي کمېټې غړی؛**

**۵- پوهنمل دوکتور عبدالمنان حسیني د مرور دورهٔ کمېټې غړی (استاد بیروني)**

**۶- محصل ۱( نعمت الله ) ټولګی( څلورم )**

**۹- محصل ۲ ( محمد آصف واحدي) ټولګی( څلورم )**

| ۱. علمي برنامې نوم: پښتو ژبې او ادبیاتو څانګه | علمي برنامه مقطع: (لیسانس ✓ ماستري ◯) |
| --- | --- |

**۲. د علمي برنامې او د پوهنځي د استراتیژیک ماموریت سره همغږي**

پښتو څانګه په ( ۱۳۹۲) لمریز کال د فراه لوړو زده‌کړو مؤسسې د ښووني او روزنې پوهنځي په چوکاټ کې د دوو کادري بستونو په لرلو سره خپل فعالیت پیل کړ. د پښتو څانګې ایجاد موخه په اسلامي، ملي او وطني روحیه د هېواد ښوونځیو لپاره مسلکي او متخصص ښوونکي روزل و، یاده څانګه په ملي کچه د پښتو ژبې او ادبیاتو د تدریس او څېړنو په برخه کې پېژندل شوې څانګه ده.

پښتو څانګه زیار باسي، چې د نورو کارونو سره سره د زده کړې او تحصیل، پرکتیک او څېړنو یو پرمختللی چاپېریال، چې په پرمختللي او عصري ټکنالوجۍ سره سمبال وي. د خپلو موخو ترلاسه کولو لپاره رامنځته کړي؛ ترڅو پکې د علمي، تدریسي او اداري پرسونل د ورځنیو چارو د ښې اجراء او د زده کړیالانو د تحصیل لپاره ټولې آسانتیاوې موجودې وي. همدا رنګه پښتو څانګه د اسلامي او ملي دودونو د مراعت کلکه ملاتړې ده او په ټوله ملي او اسلامي روحیه د اسلامي امارت د قوانینو پلي کېدو ته بشپړه چمتو او د ژمنه ده.

پښتو څانګې د ۱۴۰۳ کال پورې په اتو دورو کې (۲۲۰) تنه ښځینه او نارینه محصلان فارغ کړي، چې زیاتره محصلان یې په بېلا بېلو دولتي او خصوصي ادارو کې په کار بوخت دي او ځینې نور یې د لا نورو لوړو زده کړو لپاره زیار باسي. اوس‌مهال د پښتو څانګې په درې ټولګیو کې(۲۹) تنه زده کړیالان په زده کړو بوخت دي، چې د پینځه تنو کادري غړو له لوري چې یو تن یې لېسانس او څلور نور یې د ماستري تر کچې لوړې زده کړې لري د تدریس چارې پر مخ وړل کېږي، د دې سربېره د دې څانګې یو تن کادري غړی د چین هېواد دوکتورا برنامې ته معرفي شوی چې اوس مهال په زده کړو بوخت دی.

**۵. د تیرو دورو د نظارت د کړنو او د بشپړیدو/ لاسته راغلو پرمختګونه په اړه مالومات:**

د ځینو ستونزو [illegible] او هغه پښتو ځانګه په (۱۴۰۲) کال د علمي برنامو د کلنی بیا کتنه تر سره کړې وه، چې په لاندې [illegible] سره لاسته موارد چې د (۱۴۰۳) کال د ځانګې عملیاتي پلان کې راوړل شوي؛ تر دې مهال یې راوړنې او پرمختګ لري.

۱- د پښتو ځانګې استادانو ټول مضمونونه د نصاب او کریکولم مطابق مخکې تللي او د تدریس پرمختګ یې د ځانګې امر له لوري څارل شوی، چې کورس پالیسي مطابق مخکې تللی دی.

۲- د دې ځانګې لومړي ټولګي ته په (۱۴۰۳) کال کې دوه محصل را معرفي شوي و، چې د لوړو زده کړو وزارت او د پوهنځي د پریکړې له مخې نوموړي محصل ته یو کال تاجیل ورکړل شو، اوس مهال په دې ځانګه کې (۲۸) تنه نارینه زده کړیالان په زده کړو بوخت دي، چې د څلور تنو استادانو له لوري یې د تدریس چارې پر مخ وړل کېږي.

۳- د دې ځانګې درو تنو کادري غړو له پوهنیار څخه پوهنمل ته علمي ترفیع کړې ده.

۴- یو تن استاد د پوهنملي علمي رتبې په موخه خپل پروپوزل طی مراحل کړې، چې موضوع منظوري یې د لوړو زده کړو وزارت څخه راغلې ده.

۵- د دې ځانګې استادنو خپل څېړنیزې مقالې په داخلي ژونالونو کې چاپ کړې دي.

۶- د دې ځانګې استادنو خپل څېړنیزې مقالې په خارجي ژونالونو کې چاپ کړې دي.

۷- د دې ځانګې استادانو د ځانګې، پوهنځي او پوهنتون په کچه علمي سمینارونه وړاندې کړي دي.

۸- په هر سمستر کې د ځانګې امر له لوري او د محصلانو له لوري د استادانو ارزونه تر سره شوې ده، چې راپور یې په ټاکلي وخت پوهنځي سره شریک شوی دی.

۹- د ځانګې غونډې په دوامداره توګه نیول شوي دي.

۱۰- د محصلانو استازو سره وخت پر وخت د ستونزو مخنیوي په موخه غونډې نیول شوي او د ستونزو مخنیوي لپاره لازمې لارښوونې شوي دي.

۱۱- د دې ځانګې استادان د پوهنځي او پوهنتون په کچه په مختلفو کمېټو کې فعاله ونډه لري.

۱۲- د استادانو تدریسي چارو پرمختګ ارزول شوی دی.

۱۳- د ځانګې په کچه د استادانو تدریس ښه والي پلان، ځانګړی پلان او کورس پالیسي کتل شوي دي.

۱۴- د دې ځانګې استادانو له لوري د پوهنځي پریکړې پر بنسټ شل سلنه او د سمستر پای ازموینې په ټاکلي وخت اخیستل شوي دي.

۱۵-. د ځانګې محصلانو سره د څېړنیزو پروژو د بشپړاوي په موخه علمي تجربې شریکې شوي او په دغه برخه کې ورته لازمې لارښوونې شوي دي.

۱۶- پوهنځي د پریکړې پر بنسټ د ځانګې ستراتیژیک پلان باندې کار شروع شوی چې ډېر ژر به بشپړ شي.

۱۷- د محصلان د عملي کار لپاره مشاعرې په لار اچول شوې دي.

۱۸- د چاپیر یال پاک ساتنې او سرسبزي په موخه د پوهنتون په کچه په ګڼ اشر کې د دې ځانګې د محصلانو او استادانو ګډون.

۱۹: د دې ځانګې د څلورم ټولګي دوه تنو محصلان د لارښود استاد تر لارښوونې او نظر لاندې علمي مقالې لیکلې دي او د څېړنې آمریت ته د تایید په موخه استول شوي دي.

۲۰: د دې څانګې استادانو د (۱۳۹۷) کال راوروسته د محصلانو ټول نمرات د (HEMIS) سیستم ... دي.

**د هیأت وړاندیزونه او نظریات:**

- ✓ .
- ✓


**۶. محصلانو کامیابي(د محصلانو شمېرچې تحصیلي دوره یې په بریالیتوب سره تېره کړي اودفارغانو شمېر):**

په دې برخه کې د څلورو دورو جدیدالشمول محصلان او د نوې کال فارغانو شمېر او همداسې د دې علمي د ټولو محصلانو کامیابي، تاجیلي او منفکي په جدول کې د سلنې په اساس راوړل شوي.

**د څلور کلنو د جدیدالشمول محصلانو احصاییه( تاجیل او منفکي په شمول)**

| کال | جدیدالشمول | منفک | فیصدی منفک | تأجیل | فیصدی تأجیل |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۴۰۰ | ۳۶ | ۱ | ٪2.7 | ۳ | ٪8.3 |
| ۱۴۰۱ | ۱۱ | ۰ | ۰٪ | ۳ | ٪27 |
| ۱۴۰۲ | ۱۰ | 2 | ٪۲۰ | | ٪۰ |
| ۱۴۰۳ | ۳ | ۱ | ٪33.3 | 1 | ٪33.3 |

تبصره: د لاس ته راغلو ارقامو د موندنې له مخې داسې پایله په لاس راځي، چې محصلان کال په کال کمیږي، په ۱۴۰۰کال کې د نویو راغلو محصلانو د کچه ډېره وه او په ۱۴۰۳ کال کې دنویو محصلانو د راتګ کچه تر ټولو ټیټه ده، هیله ده چې په راتلونکي کې د نویو محصلانو د راتګ کچه لوړه شي.





**د څلور کلنو د فارغانو جدول**

| کال | فارغانو شمېر | د مخکني کال په نسبت ډیروالی | د مخکني کال په نسبت کموالی |
|---|---|---|---|
| ۱۴۰۰ | ۴۹ | ۰٪ | |
| ۱۴۰۱ | ۲۲ | ۰٪ | ٪۵۲ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۴۰۲ | ۱۷ | ۰٪ | ٪۲۳ |
| ۱۴۰۳ | ۱۳ | ۰٪ | ٪۲۳ |

تبصره: د لاس ته راغلو ارقامو د موندنې له مخې داسې پایله په لاس راځي، څرنگه چې جدیدالشمول محصلان کال په کال کمېږي، همداسې د فارغانو سیر هم نزولي دی، هیله ده چې په راتلونکي کې د نویو محصلانو د راتگ کچه لوړه شي.




**د هیأت وړاندیزونه او نظریات:**

✓ په دې وروستیو کلونو کې د محصلانو د کمښت لپاره تدابیر او برنامې په نظر کې نیول.

**۷. کار گمارنه( دهغو فارغو محصلانو نسبت چې استخدام شوي وي.)**

په دې ځای کې د پښتو څانگې څخه د فارغو محصلانو د جذب کچه او په خپله رشته یا بله رشته کې د دندو په اړه معلومات راوړل شوي دي، د فارغو محصلانو د دندو په اړه دا معلومات د د ټولنیزو رسنیو(واتس اپ) له لارې راټول شوي دي، چې پایلې یې په لاندې ډول دي.

**د استخدام شوو محصلانو جدول**

| کال | فارغانو شمېر | استخدام شوي | د استخدام شوو سلنه | د مسلک مطابق استخدام شوي | په لوړو مقطع باندې تحصیل دوام |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۴۰۰ | ۴۹ | ۳۲ | ٪۶۶ | ٪۸۰ | ۱ |
| ۱۴۰۱ | ۲۲ | ۱۴ | ٪۶۴ | ٪۷۵ | ۰ |
| ۱۴۰۲ | ۱۷ | ۱۱ | ٪۶۵ | ٪۷۰ | ۰ |
| ۱۴۰۳ | ۱۳ | ۵ | ٪۵۵ | ٪۸۰ | ۰ |

تبصره: د لاسته راغلو مالوماتو له مخې د پښتو ژبې او ادبیاتو څانگې د(۱۴۰۰) کال ۴۹ تنو فارغینو څخه (۳۲) تنه په دندو گمارل شوي، چې (٪۶۶) سلنه جوړوي، چې ډیر یې د پوهنې ریاست په چوکات کې په دولتي او خصوصي ښوونځیو کې د معلمي مقدسه دنده

مخته وړي او لږ يي ملکي ادارو کې مديريتي بستونو کې ګمارل شوي دي. د(۱۴۰۱) کال (۲۲) تنو فارغينو څخه (۱۴) تنه په دندو ګمارل شوي، چې (۶۴٪) سلنه جوړوي، چې بيا هم ډير يې د پوهني رياست په چوکات کې په دولتي، خصوصي ښوونځيو او تسريعي کورسونو کې د معلمي مقدسه دنده مخته وړي او لږ يي ملکي ادارو کې مديريتي بستونو کې ګمارل شوي دي. د(۱۴۰۲) کال (۱۷) تنو فارغينو څخه (۱۱) تنه په دندو ګمارل شوي، چې (۶۵٪) سلنه جوړوي، چې اته تنه د پوهني رياست په چوکات کې په دولتي او خصوصي ښوونځيو او تسريعي کورسونو کې د معلمي مقدسه دنده مخته وړي، يو تن په فراه پوهنتون کې اجرائيه مديرګي تن په ښاروالي رياست او يو تن هم د پوهنې رياست په مديريتي بستونو کې ګمارل شوي دي او يو تن هم د (ټيلو) په مؤسسې کې دنده لري. د(۱۴۰۳) کال ۱۳ تنو فارغينو څخه (۵) تنه په دندو ګمارل شوي، چې (۵۵٪) سلنه جوړوي، چې درې تنه د پوهني رياست کې مديريتي بستونو کې ګمارل شوي دي يو تن هم د احصاييه په رياست کې او يو تن هم په يوې اينجو کې په دندې بوخت دی. دا چې (۱۴۰۳) کال فارغين نوې فارغ شوي او ډير احتمال شته چې په نږدې راتلونکي په دندو وګمارل شي.

## د هيأت وړانديزونه او نظريات:

✓ دا چې په دې وروستيو کې د ګمارنې کچه راټيټه سوې ده، نو دلايل يې څه دي او ياده څانګه څه ډول برنامه او حل لاره وړاندې کولای سي!

## ۸. د محصلانو فيډبک او نظريات:

د دې لپاره چې دلته د محصلانو فيډبک او نظريات يادونه وشي، د کيفيت لوړونې د تدريس کيفيت بياکتنې پروسې فورمې چې په (۱۴۰۲) کال کې توزيع شوي وي؛ ورڅخه ګټه اخولو او د محصلان د رضايت سلنه وروسته تر تحليل او تجزيې لاندې ياد شوي دي:

**په (۱۴۰۲) کال کې د تدريس د کيفيت څخه د محصلانو د رضايت سلنه**

| ټولګي / مولفې | منابع | آمادګي | روش برخورد | روش تدريس | امتحان | ارزيابی |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لومړی ټولګی | %98 | %97 | %98 | %97 | %98 | %98 |
| دويم ټولګی | %98 | %98 | %96 | ٪۹۷ | ٪۹۹ | ٪۹۸ |
| دريم ټولګی | ۹۶٪ | ۹۷٪ | ۹۷٪ | ۹۸٪ | ۹۹٪ | ۹۹٪ |
| څلورم ټولګي | ۹۷٪ | ۹۹٪ | ۹۸٪ | ۹۸٪ | ۹۸٪ | ۹۹٪ |

**تبصره**

د پورتني لاسته راغلو مالومات څخه ښکاري، چې محصلان د د استادانو تدريسي سرچينو څخه پوره رضايت لري او لږو محصلانو د رضايت نسبي دی، د استادانو د آمادګي په برخه کې هم ډيرو محصلانو پوره رضايت ښودلی او ډير کم محصلان نسبي رضايت ښودلی. همداسې په نورو مولفو کې هم محصلانو خپل ډير رضايت ښوودلی دي او د دې تحليل پايله د منلو او ښه پايله بلل شو.

## د هيأت وړانديزونه او نظريات:

✓

## ۹. د فارغانو فيډبک او نظريات:

د پښتو ژبې او ادبياتو څانګې اکثر فارغان د پوهنې رياست په چوکاټ کې د معلمي مقدسه دنده پر مخ وړي، او څه ناڅه يې د ملکي رياستونه او موسساتو په اداري برخه کې مصروفه دي. پښتو ژبې او ادبياتو څانګه خپل د اکثرو فارغانو سره د ټولنيزو رسنيو له لارې اړيکه لري، د همدې لارې څخه د نوموړو څخه د پوښتپانو له لارې د پښتو څانګې د نصاب او نورو کړنو په اړه پوښتنې شوي او د هغوی څخه د نظرياتو غوښتنه شوې. چې وروسته د دوی

نظریات او فیډبکونه راټول او تحلیل شول، چې خلاصه یې لاندې ډول دي:

۱: د ګرامر، ادبي فنون، ادب تاریخ، لیکوالي، ادبپوهنې، عروض او قافیه هغه مضامین وه، چې فارغان ځینې خوښې شوې وه، عملي برنامې لکه مشاعره، علمي پروژې او د استادانو نیک چلند هم هغه موارد دي، چې فارغان د پښتو څانګې په ښه ټکو کې یاد کړي دي.

۲: ګرافیم، چاپیریال، ساتنې، تربیتي اداره هغه مضامین وه، چې فارغانو ځینې رضایت نه درلود، د استادان تدریس چې په دري ژبه و او همداسې د څانګې نصاب یې پخواني یاد کړي و.

۳: ګرامر، متن، لیکوالي، اراوپوهنې، مشاعرې او هغه مضامین چې په عملي ډول سره تدریس شوي، هغه موارد وه، چې فارغانو د دندې په پرمختګ کې ورسره مرسته کړې ده.

۱- د لیکوالي، ادبي فنون، ګرامر او قافیه مضامین ته دې نور هم عملي جامه واغوندې، تر څو فارغین په کاري ساحه کې په آسانه توګه استفاده کړي.

۲- ځینې مضامین باید هر دو کلنو کې نوي او اپډیت شي. تر څو مضامین د بازار کار سره سمون وخوري.

۳- محصلان باید د مونوګراف څخه مخکې په علمي څېړنه بوخت شي، تر څو د څېړنې په برخه کې تکړه شي.

۴-د مضامینو د کاروني ساحې محصلانو ته تشریح شي، تر څو فارغان مخکې له مخې ور ته چمتو وسي.

۵: محصلان دې وهڅول شي، چې عملاً له ټکنالوژۍ سره کار وکړي، تر څو کاري ساحه کې د ټکنالوژۍ سره بلدتیا ولري.

**د هیأت وړاندیزونه او نظریات:**

✓ د محصلانو او فارغانو نظرونه دې په راتلونکي کلني برنامې کې په نظر کې ونیول سي.

**۱۰. د استادانو فیډبک او د تدریس د کیفیت ښه والی**

پښتو ژبې او ادبیاتو څانګه د لومړي ځل لپاره د علمي برنامو مرور دوره ای بیاکتنه ترسره کوي. د څانګې په ۱۴۰۳/۹/۵ نېټه په (۹) ګڼه پرتوکول غونډه کې د استادانو څخه وغوښتل شول، چې د مرور دوره ای بیاکتنې په اړه خپل فیډبک او نظریات وړاندې کړي، ټولو استادانو د مرور دوره ای بیاکتنه څخه خوښي وښودل او دا یې د څانګې د پرمختګ لپاره یو مثبته کړنه وبلل. چې کولای شو، د دې لارې د څانګې مثبت او منفي ټکي ښکاره شي او د څانګې ستونزې او نواقص ښه وپېژنو؛ تر څو خپل په راتلونکي پلان کې دا ستونزې او د حل لپاره یې کړنې ځای پر ځای کړو. همداسې دا بیاکتنه د راتلونکي د تدریس کیفیت د ښه والي په بهیر باندې هم مثبت اغیزه وشندي.

د په دې څانګې ټول هغه اسناد او شواهد شته، چې د تدریس د کیفیت د ښه والي څرنګوالی څرګند وي، د تاسیس نه تر اوس پورې پښتو ژبې او ادبیاتو څانګې هڅه کړې ده، چې خپل فزیکي او بشري سرچینوي کیفیت لوړ کړي، تر څو د تدریس کیفیت ورسره لوړ شي او فعال، په کار پوه او مسلکي فارغین د کار بازار ته وړاندې کړي.

څرنګه چې د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګې ټول استادانو مخکې هم دا ژمنتیا او لیوالتیا درلود، چې خپل علمي او تحصیلي کچه لوړه کړي، اوس ټول استادان عملاً په دې بوخت دي، چې علمي ترفیع وکړي او یا خپل لوړې زده کړې نورې هم مخته یوسي. پښتوڅانګه غواړي د استادانو د علمي څېړنو، د استادانو د علمي کچې لوړولو، (OBE & SCI) د تدریسي سیستم له لارې، عملي زده کړو. مشاعرو، د محصلانو لخوا د علمي سمینارونو په وړاندکولو، د کتابتون د پراخوالي او د ټکنالوژۍ له لارې غواړي؛ چې لا نور هم خپل د تدریس کیفیت ښه والي مخ پر لوړه یوسي.

د دې څانګې استادان د تدریس د کیفیت د ښه والي لپاره د پوهنځي، پوهنتون او لوړو زده کړو وزارت له رهبري

ځخه غواړي، چې د نوموړو لپاره د دوکتورا او ماستري د برنامو لپاره په دننه او بهر کې زمینه برابر کړي، چې په مناسب وخت کې خپل لوړې زده کړې ترسره کړي. همداسې د علمي ترفیعات او علمي ... مقالو خپرولو لپاره اسانتیاوې برابرې کړي. دا هیله ښودلې، چې د نوې نصاب دې تطبیق شي.

**د هیأت وړاندیزونه او نظریات :**

✓ څانګه دې د استادانو د ظرفیت لوړونې په موخه د لنډمهاله کورسونو په پیلیدا او معرفي کولو کې پراخ رول ولوبوي.

**۱. د ګمارنکو فیډبک او نظریات:**

د پښتو څانګې لخوا د ګمارنګو څخه د فارغان په هکله په رسمي ډول مکتوب استول شوی او د هغوې څخه د ځواب غوښتنه شوي، چې د ځوابونو او نظریاتو لنډیز یې دلته راوړو:

د پوهنې ریاست د ګمارونکی په حیث د پښتو څانګې پوښتپاڼې ته ځواب ویلي:

د پښتو څانګې اکثر فارغان خپل برخه کې پوره استعداد او وړتیا لري، په ملي ژبو باندې پوره بلدتیا لري، په تدریسي میتودنو ، پلان جوړونه او ټکنالوژي استعمال کې برلاسي لري، ټولنیز او اداري سلوک او همکاري یې ښه دي.

د دې لپاره چې محصلان د نوموړو د اداري سره پوره منطبق وي. ځینې نظریات ورکړي؛ چې لنډیز یې دا دی: محصلان په عملي چارو لکه سمینارونو او علمي پروژو بوختول، په علمي سمینارونو کې ګډون، د څېړنې میتودونو باندې سمبالول، د رشتې اړوند سمبال کتابتون برا برول، د مدیریتي کوروسونه ورته په لاره اچول، همداسې باید ټولنیز اخلاق او کړنو سره اشنا شي او خپل ژوند کې عملي کړي. دا چې د پوهنې ریاست غواړي د تضمین کیفیت برخه فعال کړي. د تدریس تر څنګ تضمین کیفیت اړوند امورات محصلانو ته زده کړه ورکړ شي.

د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې ریاست هم د ګمارونکي په حیث پښتو څانګې پوښتنپاڼې ته ځواب ویلی: د پښتو څانګې محصلان خپل په رشتې کې تکړه استادان او مدیران دي، د مدیران په برخه کې یاد محصلان د پښتو ژبې مراسلات او مکتوب کې ډیر برلاسه دي. اداري او اخلاق برخه کې برخمن دي. په اداري اصولو باندې پوه دي او تکنالوژی سره پوره بلدیتا لري. دا چې پوهنتون یوه برخه اداري ده ښه به وي، اداري مضامین خپل په نصاب کې اضافه کړي، د مکتوب لیکنې اصول باندې ډیر کار ورسره وسي.

پښتو څانګه د پیل څخه دا ژمنتیا لري، چې مسلکي، متخصص او ژمن فارغان ټولنې ته وړاندې کړي، بیا د ګمارنکو نظریاتو ته پوره احترام او لیواله دي، د څانګې په راتلونکي پلانونو کې به ځای پر ځای شي.

**هیأت وړاندیزونه او نظریات:**

✓ د استخدام کوونکو نظرونه دې په راتلونکي کلني برنامې کې په نظر کې ونیول سي.

**۲. فزیکي او عملي زده کړیزي سرچینې:**

پښتو ژبې او ادبیاتو څانګه خپل چارو د ترسره کولو او خپل محصلانو ته د تدریس او نور اسانتیاو د برابرولو لپاره لاندې فزیکي سرچینې لري:

Faculty of Education

- ✓ یو خونه د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګې د استادانو لپاره لري.
- ✓ د تکنالوژۍ په برخه کې پراجکتور او (LCD) ځېرک تلویزونو د ښه تدریس لپاره لري.
- ✓ یو کتابتون لري، چې تقریبا (۱۰۰۰) توکه مسلکي او تخصصي کتابونه لري.
- ✓ په څانګې کې د استادانو لپاره پرینتر او کامپیوټر لري.
- ✓ ټول استادان میز، څوکۍ او نور ټول اداري او تدریسي قرطاسیې لري.
- ✓ د اداري او څېړنیزو اسنادو د خوندیتوب لپاره الماري او دوسیې لري.
- ✓ په ټولګیو کې د محصلانو لپاره څوکۍ، دریځ، تخته، بریښنا او مارکر لري.
- ✓ د څانګې د خبرتیاو او د محصلانو د علمي فعالیتونو د خپرولو لپاره ویترین لري
- ✓ د علمي سمینارنو او مشاعرو لپاره د غږ سیستم لري.

تبصره: پورته یاد شوي فزیکي سرچینې په ډېر اغېزمن ډول په کار اچول شوي، چې د محصلانو په زده کړې او د استادانو په تدریس او څېړنه باندې یې مستقیمه ډول اغیزه کړې ده، چې ځینې په لنډ ډول داسې یادولای شو؛ استادانو د پراجکتور او ځیرک ټلویزونو له لارې خپل لکچر او تدریس په ښه، روښانه او آسانه توګه محصلانو ته ارایه کړي دي او همداسې محصلانو د تکنالوژۍ په واسطه خپل علمي پروژې ارایه کړي دي. د کتابتون د کتابونو څخه استادانو تدریس او څېړنه او محصلانو خپل زده کړه علمي پروژو کې ور څخه اعظیمي ګټه پورته کړې ده، هر سمستر د پښتو څانګې محصلان د (ویښتابه) تر نامه لاندې جریده د پښتو څانګې په ویترین کې خپروي. د پراجکتور او غږ سیستم په واسطه هر میاشت د محصلانو او استادانو لخوا د کنفرانسونو په سالونه کې علمي سمینارونه او ادبي مشاعرې وړاندې کوي.

د دغو فزیکي سرچینو او امکاناتو تر څنګه که د پښتو څانګې سره لاندې امکانات مرسته وسي، پښتو څانګه به نور پرمختګ وکړي:

- ✓ پنځه ویترینونه چې د فراه د مرکز په ښوونځیو کې ولګول شي او پښتو څانګه خپل ادبي او علمي جریده خپره کړي.

**د هیأت وړاندیزونه او نظریات:**

- ✓

**۳. بشري سرچیني:**

| نوم و تخلص | تحصیلي سویه | اختصاصي رشته | علمي رتبه | کاري تجربه |
|---|---|---|---|---|
| خلیل احمد برهاني | دکتورا جریان لري | پښتو ژبه او ادبیات | پوهنمل | ۱۰ کاله |
| عبدالبصیر رحماني | ماستر | پښتو ژبه او ادبیات | پوهنیار | ۹ کاله |
| محمد شفیق حقمل | ماستر | پښتو ژبه او ادبیات | پوهنمل | ۹ کاله |
| محمد حسین میاخیل | ماستر | پښتو ژبه او ادبیات | پوهنیار | یو کال |
| محمد عثمان نورزی | لیسانس | پښتو ژبه اوادبیات | نوماند پوهنیار | یو کال |

تبصره: لکه څرنگه چې په پورته جدول کې ليدل کيږي، د پښتو ژبې او ادبياتو څانگې د دروټنو استادانو تحصيلي سويه د ماستري تر کچې ده او يو تن استاد د چين په هيواد کې د دوکتورا په مقطع کې په تحصيل بوخت دی او يو تن استاد به په نږدې راتلونکی کې د ماستري برنامې ته وپيژندل شي. له يادو استادانو څخه دوه تنه د پوهنمل علمي رتبې ترلاسه کړي او ښاغلي پوهنيار عبدالبصير رحماني د پوهنملي دوسيه د وزارت د ترفعياتو رياست څخه خلاصه شوي او ډير ژر به راوسيږي. همداسې د ښاغلي پوهنيار محمدحسين مباخيل د پوهنملي پروپوزل او موضوع تاييده شوي او خپل پر علمي رسالې باندې کار کوي. په دې څانگې کې د لوړو علمي رتبو او علمي سويې درلودونکي استادانو شتون د مسلکي او متخصصو محصلانو د روزلو اړتيا پوره کولای شي او تر ډيره د کار د بازار غوښتنې ځوابولي شي او د دوې د غوښتنې او اړتيا مطابق محصلان به فارغ کړي. د وزارت پاليسي او د کار د بازار دغه غوښتنه ده، چې يو متخصص او مسلکي کاري ځواک تربيه او فارغه شي؛ نو د پښتو ژبې او ادبياتو څانگې د پلان يوه برخه دا چې خپل ټول استادان د دوکتورا تر کچه خپل لوړې زده کړې سرته ورسوي او خپل د علمي تجربو په واسطه سره مسلکي، متخصص او ژمن ځوانان ټولنې ته تربيه او وړاندې کړي.

**د هيأت وړانديزونه او نظريات:**

### ۴. پوهنځي او څانگې ته وړانديزونه:

- د څانگې ستراتيژيک پلان دې د پوهنځي د ستراتيژيک پلان مطابق ترتيب سي.
- د محصلانو لپاره دې د کارآموزي پروگرامونه زيات سي.
- د ټرون ليکونو څخه دې په زياته پيمانه گټه واخيستل سي.
- د محصلانو له استازو او محصلانو سره دې د آمر او استادانو جلسات زيات سي.
- په دې وروستيو کلونو کې د محصلانو د کمښت لپاره تدابير او برنامې په نظر کې نيول.
- دا چې په دې وروستيو کې د گمارنې کچه راټيټه سوې ده، نو دلايل يې څه دي او ياده څانگه څه ډول برنامه او حل لاره وړاندې کولای سي!
- د محصلانو او فارغانو نظرونه دې په راتلونکي کلني برنامې کې په نظر کې ونيول سي.
- څانگه دې د استادانو د ظرفيت لوړونې په موخه د لنډمهاله کورسونو په پيلدا او معرفي کولو کې براخ رول ولوبوي.
- د استخدام کوونکو نظرونه دې په راتلونکي کلني برنامې کې په نظر کې ونيول سي.

### ۵. وړانديزونو ته د څانگې ځوابونه:

- د پښتو څانگې استراتيژيک پلان تر کار لاندې دی.
- دا چې هر کال د پښتو څانگې څلورم ټولگي محصلان د کارآموزي ښوونځيو ته ځي، بيا هم د نورو عملي کارونه يې په عملياتي پلان کې ځای پر ځای سوي.
- په ۱۴۰۴ کال کې د پښتو څانگې بروشور بياځلي به چاپ سي.

- پښتو څانګه خپل د عملیاتي پلان له مخې هڅه کوي، چې دښوونې او روزنې پوهنځي او پوهنتون د ټرونلیکونه څخه ډېره ګټه واخلي.
- پښتو څانګه په میاشت کې یو ځل د ټولګیو د استازو سره ناسته لري.
- پښتو څانګه په پلان کې لري، چې د دې نه وروسته د څانګې پیژندنې، مرامنامې، موخو او ارزښت په اړه په ښوونځیو کې ناستې او سمینارونه ولري.

**لاندې لاملونه د ګمارنې کچه کښته کړې ده:**

- ✓ د امارتي بستونو کمښت؛
- ✓ د محصلینو د کاري تجربې نه درلودل؛
- ✓ د ګمارنکو لخوا ټیټه معاش ورکول؛

**پښتو څانګه لاندې سپاربښتنې لري:**

- ✓ امارتي بنستونه دې په ګمارنه کې د پوهنتون فارغانو ته لومړیتوب ورکړي؛
- ✓ فارغان دې د بست د آزموینې مخکې چمتوالی ونیسي؛
- ✓ د خصوصي سکتورنو سره اړیکه او ټرونلیک درلودل؛
- ✓ د فارغان د مهارتونو ته پراختیا ورکول؛

- د تېر په څېر پښتو څانګې خپل اړیکې د فارغان سره به ټېنګې کړي، د محصلانو څخه به د راتلونکی پلان او نصاب په اړه نظر وغواړي.
- پښتو څانګه د پوهنځي په همغږي سره د لنډمهال او اوږد مهال کورسونه لپاره یو پلان ترتیب کړي.
- د بازار د اړتیا د پوهیدو لپاره د ګمارنکو نظر اخیستنه اړینه ده، پښتو څانګه په راتلونکي کې هر کال د ګمارنکو نظرونه به اخلي.

**د راپور د چمتوکیدو نېټه: ۱۴۰۳/۹/۱۵**

**د پوهنځي د کیفیت لوړونې کمېټې تاییدي** گزارش هذا در جلسه شماره (۱) مورخ ۱۴۰۴/۱/۷ مورد تائید قرار گرفت

**د پوهنځي د ریاست تاییدي** گزارش هذا در جلسه نمبر (3) مورخ ۱۴۰۴/۲/۲۵ مورد تائید شورای علمی قرار گرفت

**د پوهنتون د کیفیت لوړونې مرکزي کمېټه تاییدي** گزارش مورد شورای هذا در جلسه مورخ ۱۴۰۴/۴/۲۲ شماره (۴) مورد تائید قرار گرفت

**د موسسې د علمي شورا تاییدي**